## مطبوعاتي اعلاميه

## د ډینمارک ښوونځي د اسلام ضد حکومتي پالیسي پلې کوي

د ۲۰۲۰ میلادي کال د ډیسمبر پر شپږمه د ښوونځیو څو تنو مدیرانو په یوه مقاله کې د هغو زده کوونکیو په اړه خپل دریځ بیان کړ چې لمونځونه به یې په خپل ښوونځي کې کول. د دوی پریکړه واضحه وه چې مسلمان زده کوونکي به په ښوونځیو کې لمونځ نه کوي او که یې کوي، د رخصتۍ په وخت کې به ټول زده کوونکي یو خالي اتاق ته ځي او لمونځ به کوي. د مدیرانو رییس برجیت ویدرس ومنله چې په لویو ښارونو او هغو ښوونځیو کې چې ډېری مسلمان زده کوونکي لري، د لمانځه مخنیوي پالیسي شته ده.

په همدغه مقاله کې د همبستگۍ وزیر ماټیاس ټسفای د دې پالیسۍ په اړه داسې څرګندونې وکړې «دوی باید د رخصتۍ په وخت کې د لمونځ کولو هیله ونه لري.»

یو ځل بیا ښکاره شوه چې هلته په شته مذهبي ازادۍ کې د دغه هېواد مسلمانانو ته ځای نشته. دا منافقت او دوه مخیتوب یوازې له دې امله دی چې د ښوونځیو زده کوونکي د عقیدوي ازادۍ په ارزښتونو وروزي. په ښوونځیو کې د تحمل، تنوع او ټول شموله نصحتونو نظریې تدریسېږي، پر دې سربېره، زده کوونکو ته په غربي معیارونو زده کړې ورکول کېږي.

د لمانځه پر وړاندې د هغوی د منع پالیسي ښیي چې له اسلام سره څومره تعصب لري، په همدغه ډول چې په ټولنه کې شته دی. د ډنمارک پارلمان هغه ځای دی چیرته چې د مسلمانانو پر وړاندې پراخ تبعیض منل شوی او دا یوه ثابته پالیسي ده.

ځینې مدیرانو د دې پالسي د قانوني کولو لپاره بېلابېلې پلمې کولې، چې ځینې یې د سیکولریزم ضد وې او په ټکر کې دلیلونه یې درلودل، ځکه په سېکولریزم کې د هر ډول عقیدې خلکو ته ځای پیدا کېدایشي. د مخنیوي پالسي هغه دروغجنې ادعا وې دي چې دوی یې کاروي چې ښوونځي مذهبي ځایونه نه دي، بلکي بې طرفه فضاوې دي. آیا د دې مانا داده چې دا ځینې لویې کمپنۍ

او پوهنتونونه هم بې پرې نه دي، ځکه چې دوی يې خپلو کار کوونکو او محصلينو ته د لمانځه لپاره اتاقونه ورکوي.

د مديرانو رييس او د همبستګۍ وزير همدارنګه د «ټولنيز کنترول» پلمه وکړه، چې د دې ډار شته چې ځنې زده کوونکي شايد د نورو زده کوونکو په واسطه لمانځه کولو ته اړ شي؛ خو د ښوونځيو ټولنيز کنترول چيرته دی، کله زده کوونکي پخپلسر له سپکاوي ډکې مېلې نيسي، څښاک کوي او د جامو ځانګړي سټايلونه ترسره کوي. پر دې سربېره، ايا داسې شواهد شته چې زده کوونکي پخپله خوښه لومنځ نه کوي؟

د دغو ټولو څرګندونو عمومي خبره داده چې دوی نور ډېر ضعيف او غير واقعي دي او دا هر څه د دوی د زغم نشت او دوه مخيتوب څرګندوي. د لمانځه مخنيوي پاليسۍ هدف دا دی چې د ډينمارک دولت په ښوونځيو کې د اسلام ضد افکار پلي کوي. اسلامي نښانونه، ارزښتونه، اخلاق او شخصيتونه تل له سياسي بريدونو سره مخ وي. د دغه هېواد د همبستګۍ وزير د مسلمانانو لمونځ د جګړې غږ بولي.

لمونځ د اسلام پايه ده. سربېره پردې، د لمانځه خونه د يوې سالمې ټولنې مرکزي نقطه او اصلي اسلامي ارزښت دی او سرچپه غير اخلاقي ارزښتونه تر ډېره په ښوونځيو کې رواجېږي. مهمانۍ، څښاکونه او زناوې په ښوونځيو کې ډېرې عامې شوې دي، چې د ښوونځيو د مطالعې يوه بشپړه برخه يې جوړه کړې ده.

موږ په مسلمانو والدينو، کورنيو او استازو غږ کوو چې د ښوونځيو په مديرانو فشار راوړي، څو يې ماشومان په ښوونځيو کې لمانځه ته پرېږدي. د يوې مسلمانې ټولنې په توګه موږ بايد د خپلو مسلمانو زده کوونکو د هويت، او اصليت ملاتړ وکړو.؛ په ځانګړي ډول، کله چې له بدګمانۍ سره مخ کېږي. په دغه کار سره د غربي فرهنګ کمزوري او د اسلام قوت ثابتېږي.

**په ډينمارک کې د حزب تحرير مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۲هـ.ق د ربیع اول ۲۳مه**

**۲۰۲۰ م کال د ډیسمبر ۸مه**

**د صدور ګڼه: ۰۳/۱۴۴۲**